# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د حدیث شریف ژباړه:**
نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: هغه سړي پر ما ایمان نه دئ راوړی، چي خپله موړ بیده سي او همسایه ئې وږی وي، په داسي حال کي چي دی په خبر هم وي. [رواه البزاز والطبراني في الکبیر.]

**ترجمه حدیث شریف:**
نبي کریم صلی الله علیه وسلم می فرماید: آن شخص بر من ایمان ندارد؛ که خودش شکم سیر بخوابد و همسایه ایشان گرسنه باشد در حالیکه از وی آگاهی دارد.(رواه البزاز والطبراني في الکبیر)
( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


پنجشنبه | د شعبان المعظم ۱۲ - ۱٤٤٥ال س/ د کب ۳ - ۱٤۰۲ال ل/ د فبرورۍ ۲۲ - ۲۰۲٤ز/دوهم کال / ۸۸ گڼه/ ٤ مخیز



## سر مقاله

### اصلاح نظام گمرکي حرکت به سمت تحول واقعي

گمرک به لحاظ اینکه دارای نقش های متعددی در زمینه های اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی در جامعه است تاثیر زیادی در درآمد زایی برای دولت و جامعه دارد و افزون بر آن در اجرای برنامه های کلان اجتماعی و اقتصادی نقش تعیین کننده ایفا می نماید. گمرک همواره با حجم گسترده‌ی از اطلاعات و تغییر و تحولات پی در پی مقررات تجارت خارجی مواجه است و بر مبنای آن سیاست و پالیسی های مناسبی اتخاذ می کند. از این رو در تطبیق برنامه های تحول و اصلاحات دولت می تواند اهمیت درخور توجهی داشته باشد. اصلاح نظام گمرکي و حرکت به سمت تحول واقعي در گمرك، نهاد اقتصادی دولت ها را ملزم مي کند که تمام توان و ظرفیت های شان را به کار گیرند تا بتوانند در این زمینه به موفقیت دست یافته و گام های بلندي در توسعه اقتصادي بردارند. وزارت مالیه تلاش های پیگیر و مستمر خود و طرح های بزرگ و جامع را برای تحول در بخش های عواید و گمرکات کشور کلید زده اند و خوشبختانه تا اکنون اقدامات مثبتی در این جهت صورت گرفته که حاصل تلاش و کوشش همه روئسا و کارمندان گمرك بوده است. وزارت مالیه سعی نموده است تا گمرکات افغانستان وظایف خود را در چارچوب طرح تحول گمرکی به طور مطلوب انجام دهد، که استفاده و بهره برداری از تمام ظرفیت های موجود و منابع بشری، باعث پیشرفت و گام برداشتن به سوی پیشرفت های اخیر در این اداره بوده است. طوریکه شاهد هستیم تلاش مقام های ارشد وزارت مالیه در اینست که وارد مرحله نوین در توسعه و پیشرفت شوند، برای رسیدن به این امر مهم تلاش های زیادی صورت گرفته و همچنان تکنالوجی ارتباطی و الکترونیکی در اداره گمرکات افغانستان فعال شده و انتظار میرود که از منابع بشری موجود در سطح گمرکات کشور به نحو درست و مطلوب استفاده شود و سرعت و دقت در انجام کار ها و امور گمرکات به چند برابر افزایش یابد. برای رسیدن به یک اداره بهره ور و کارا تا اکنون گام های بلندی برداشته شده است. طوریکه میدانیم امروز وظایف گمرکات بسیار فراتر از کنترول امر صادرات و واردات می باشد که طیف وسیعی از وظایف را به شمول نظارت از کیفیت صادرات و واردات، حفاظت از صحت عامه، حفظ آثار تاریخی و فرهنگی، زیست محیطی، جلوگیری و مبارزه با قاچاق اقلام تجارتی، ایجاد زمینه ها برای تجارت قانونمند، مبارزه با پول شویی، توسعه تجارت با سایر واحد های سیاسی را در بر می گیرد. برای اینکه وزارت مالیه افغانستان به اهداف فوق دست یابد تلاش نمود که از تکنالوجی های نوین و حرکت به سمت الکترونیکی کردن امور بهره کامل ببرد.

**با احترام**
**اداره**

## د مالیې وزارت د عامه پانگوني د مدیریت ریاست د بودیجوي واحدونو (٦٦) پراختیایي پروژې تائید کړې




د مالیې وزارت د پالیسۍ معینیت د عامه پانگوني لوی ریاست د عامه پانگوني د مدیریت ریاست له ملي لومړیتوب سره سم د اسلامي امارت اهدافو ته د رسېدو په موخه د غوره پروژو د ټاکلو، د مالي سرچینو د سپما او د پروژو د ستراتیژیک تحلیل لپاره د بودیجوي واحدونو د پراختیایي پروژو د مالي او اقتصادي تجزیې او تحلیل مسؤلیت په غاړه لري. دغه ریاست همدارنگه د مالي او اقتصادي تحلیل، له پانگوني وړاندي پروسې او د پراختیایي پروژو د تائید په موخه د پروژو د ارزوني له کمېټې سره د ناستو د ترسره کولو د لاربسود چمتو کولو او ترتیبولو مسؤلیت لري. د عامه پانگوني د مدیریت ریاست د پروژو د ارزوني کمېټې (PEC) له لاري له پانگوني وړاندي مرحله کي د بودیجوي واحدونو ټولي نوي پراختیایي پروژې پراختیایي لومړیتوبونو ته په کتو ټاکي؛ په همدې اساس، بودجوي واحدونو ته د متحد المال په استولو او د یادي کمېټې له لاري د غونډو په جوړولو سره توانېدلی، چي د (۱۴۰۳) مالي کال لپاره (۲۱۶) پراختیایي پروژې پیدا او له دې ډلي (۱۲۱) پروژې تر تحلیل او ارزوني وروسته تائید کړي؛ خو د پروژو د ارزوني کمېټې د پرېکړې او د اسلامي امارت د مالي محدودیتونو او پراختیایي لومړیتوبونو په پام کي نیولو سره، بالاخره (٦٦) نوي پرمختیایي پروژې د ملي بودیجې په سند کي د شاملولو په موخه تائید سوې. د یادوني وړ ده، چي د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته دغه ریاست یوازي هغه پروژې، چي د ملي بودیجې له لاري تمویلېږي ترلاسه او اروزي او د هغو پراختیایي لومړیتوبونو پر بنسټ، چي د افغانستان په اقتصادي کنفرانس (کرنه، روغتیا، کانونو او خصوصي سکټور) کي مطرح سوي ول ټاکي، همداراز د وزارتونو او خپلواکو ادارو پراختیایي پلانونه هم پکښي شامل دي.

## د گمرکونو او عوایدو معین د مس عینک کان د کیندني او پروسیس کمپنۍ له سرپرست سره وکتل



د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین ملا عبدالقاهر حاجي ادریس په خپل دفتر کي د مس عینك کان د کیندني او پروسیس کمپنۍ له سرپرست لی بن تاو (Li ben tao) او مل پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کي دواړو لوریو د مس عینك کان د کیندني پر څرنگوالي، په افغانستان کي د یادي کمپنۍ د مالیې په ورکړه، په افغانستان کي د دې کمپنۍ له لوري په جوړېدونکو بنسټونو او یو شمېر گمرکي مسائلو په تړاو هر اړخیز بحث او خبري وکړې. د گمرکونو او عوایدو معین له دوی څخه مننه وکړه، چي په افغانستان کي ئې پانگونه کړې. نوموړي زیاته کړه، چي اوس مهال په افغانستان کي د پانگوني لپاره ښه زمینه برابره ده او پر وړاندي ئې هیڅ ډول ستونزه نسته. د گمرکونو او عوایدو معین د مس عینك کان د کیندني او پروسیس کمپنۍ سرپرست ته ډاډ ورکړ، چي د شته ستونزو د حل په برخه کي به له دوی سره پوره همکاري وکړي.

## د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست (١٦٣) مرجع پلټلي دي



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست، چي د کورنۍ پلټني له معیارونو، اصولو او طرزالعمل سره سم د مالیې وزارت د واحدونو مالي او اداري اجراآتو د پلټني مسؤلیت په غاړې لري، تل ئې هڅه کړې، چي د عامه شتمنیو ساتنه وکړي او د اجراآتو له اغېزمنتیا او شفافیت څخه ډاډ ترلاسه کړي. پر همدې بنسټ ئې د روان مالي کال له پیله تر دې دمه له پلان سره سم د قوانینو او مقررو په رڼا کي (١٦٣) مرجع پلټلي دي. له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د دې اداري د پلټونکو د هڅو او د دغه وزارت د رهبرۍ د همکارۍ او ملاتړ په پایله کي د مالیې وزارت په اړوندو ادارو کي د فساد کچه تقریباً صفر ته رسېدلې ده. د نورو مسئولیتونو تر څنگ د افغانستان اسلامي امارت د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بودیجوي واحدونو د پلټونکو د ظرفیت لوړوني مسئولیت هم د دغه ریاست په غاړه دئ، چي د بودیجوي واحدونو لپاره ئې تر (۲۰) زیات د پلټني مسلکي روزنیز پروگرامونه ترسره کړي دي. د یادوني وړ ده، چي دې ریاست د پلان سوو څېړنو تر څنگ د وزارت د مقام له لوري ټاکل سوي لسگونه غیر پلاني او خاص موضوعات او همدرانگه د مراجعینو شکایتونه څېړلي دي او راپور ئې د مالیې وزارت له محترم مقام سره شریک کړی دئ.




د ساتني او څانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې له تعلیمي ټولۍ څخه۳۰ تنه ساتنمنان فارغ سول


م ۲




د عوایدو لوی ریاست اړوند د تحقیق، پلان او نظارت ریاست د ولایتونو له مستوفیانو سره انلاین ناسته ترسره کړه


م ۲




د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ۴۰ شکایتونو ته رسېدنه کړې ده



م ۲





د افغانستان د مسلکي محاسبینو(CPA) ریاست د بورډ لومړنۍ ناسته ترسره سوه


م ۲

The role of agricultural economics to improve the economic status of farmers


م ۳




په افغانستان کي د پنبې حاصلات د پروسږ کال په پرتله (٤١٪) ډېر سوي دي


م ٤

## د عوایدو لوی ریاست رهبري د نفت او ګازو اتحادیې له استازو سره ناسته وکړه



د عوایـدو لـوی ریاسـت عملیـاتي مرسـتیال ښـاغلي حافـظ خلیـل احمـد ابـو احسـان د عوایـدو د حقوقـي خدمتونـو او عوایـدو پالیسـۍ رئیـس ښـاغلي مولـوي نـداء محمـد صدیقـي او د دغـه ریاسـت د مالیـاتي معافیتونـو آمـر ښـاغلي روزي محمـد نېکمـل د نفـت او ګازو اتحادیـې لـه اسـتازو سره د دوی د سـتونزو او وړاندیزونـو پـه تـړاو ناسـته وکـړه .
د عوایـدو لـوی ریاسـت عملیـاتي مرسـتیال ښـاغلي حافـظ خلیـل احمـد، چـې دغـې ناسـتې تـه ئـې وینـا کولـه وویـل، «تاسـو د دغـه اسـلامي نظـام یـوه برخـه یاسـت او ډاډه و اوسـئ، چـې ستاسـو یـوه افغانـۍ مالیـه هـم نـه ضایـع کېـږي او د دغـه هیـواد د ابـادۍ لپـاره بـه مصرفېـږي، یقینـاً دا ستاسـو لپـاره اجـر او ثـواب هـم لـري او ډاډ در کـوو، چـې ستاسـو سره بـه پـه هـر برخـه کـې ولاړ یـو»
د یادوني وړ ده، چې د دوی د ستونزو د حل په موخه یوه کمېټه هم جوړه سوه.

## تېره اوونۍ د نیمروز ګمرک د ګرځنده څارني کارکوونکو بېلابېل قاچاقي توکي نیولي دي



د نیمـروز ګمـرک د ګرځنـده څـارني ځیرکـو کارکوونکـو تېـره اوونـۍ د دې ولایـت پـه بېـلا بېلـو سـیمو کـې یـو شـمېر توکـي نیـولي دي، چـې غوښـتل ئـې پـه قاچاقـي ډول ئـې هیـواد تـه راوړي.
پـه نیـول سـوو توکـو کـې (۴۹۵۰) کیلـو ګرامـه پاکسـتانۍ مالتـې، (۱۴۶۵) کیلـو ګرامـه خوراکـي لواشـك او (۳۳۶۰) کیلـو ګرامـه چاکلېـټ شـامل دي.
یـاد نیـول سـوي توکـي د نـورو اجراآتـو لپـاره د نیمروز ګمرك ته سپارل سوي دي.

# د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې له تعلیمي ټولۍ څخه۳۰ تنه ساتنمنان فارغ سول



د ګمرکونـو د سـاتني او ځانګـړو عملیاتـو تنفیـذي قطعـې لـه تعلیمـي ټولـۍ څخـه (۳۰) تنـه سـاتنمنان لـه لـس ورځنیـو اداري زده کـړو تـرسره کولـو وروسـته فـارغ سـول.
د فراغـت دغـه مراسـم، چـې د ګمرکونـو او عوایـدو معینیت پـه ملـي اکاډمـۍ کـې تـرسره کېدل، د نومـوړي قطعـې عمومـي قومانـدان حافـظ مولـوي محمـد نـور عبیـد هـم ګـډون کـړی وو، فارغینـو تـه ئـې د مبارکـۍ ترځنـګ پـه وینـا کـې وویـل، چـې تاسـو د مشرانـو اطاعـت وکـړئ، تاسـو د الله د دیـن نـصرت وکـړ اوس د نظـام د پیـاوړي کولـو لپـاره کار وکـړئ او اللـه تعالـی بـه ستاسـو نـصرت وکـړي. هغـه زیاتـه کړه، چـې تاسـو اوس پـه اداري برخه کـې بشـپړ مسؤلیت لرئ او بایـد پـه اداري سیسـتم کـې امنیتـي مفـرزه پیـاوړې کـړئ. تاسـو د خپلـو کړنـو راپـور ژر تر ژره لـه امنیتـي مفـرزې سره شریـک کـړئ او پـه خپلـو چـارو کـې ټولـو اړخونـو تـه متوجـه و اوسـئ.
د یـادوني وړ ده، چـې د اسـلامي امـارت لـه بیـا حاکمیـت را وروسـته دا لومـړی ځـل دئ، چـې د امنیتـي برخـي مسـؤلین لـه اداري زده کړو فارغېـږي.

## د عوایدو لوی ریاست اړوند د تحقیق، پلان او نظارت ریاست د ولایتونو له مستوفیانو سره انلاین ناسته ترسره کړه



د عوایـدو لـوی ریاسـت اړونـد د تحقیـق، پـلان او نظـارت ریاسـت او د هیـواد د یـو شـمېر مسـتوفیانو ترمنـځ انلایـن ناسـته د عوایـدو لـوی ریاسـت حمایـوی مرسـتیال مولـوي حافـظ شـاه حسـین حسـیني پـه مـشرۍ تـرسره سـوه.
پـه دې ناسـته کـې د تحقیـق، پـلان او نظـارت رئیـس مولـوي عبدالمجیـد ابـو احمـد، د دغـه ریاسـت د نظـارت او ارزونې آمـر مولـوي بدرالدیـن بـدر، د دې آمریـت کارپـوه مجیـب اللـه فروتـن، د پـلان، راپـور او قطعیـې آمـر نصراللـه پویـا او همکارانـو ګـډون کـړی وو.
د دواړو لوریـو ترمنـځ لـه یـوې سرچینـې څخـه بـلې سرچینـې تـه د عوایـدو پـه لېږد او لـه (RMIS) سیسـتم څخـه د عوایـدو قطعیـې د پرینـټ د څرنګـوالي پـه اړه بحـث او خـبري وسـوې.
د ناسـتي پـر دوام د هیـواد مسـتوفیانو د خپلـو عوایـدي لاسـته راوړنـو پـه اړه راپورونـه وړانـدې کـړل او پـه پـای کـې د عوایـدو لـوی ریاسـت حمایـوي مرسـتیال مولـوي حافـظ شـاه حسـین حسـیني لـه مسـتوفیانو څخـه وغوښـتل، چـې د مالیاتـو او عوایـدو راټولولـو پـه برخـه کـې خپلې هڅې ګړنـدۍ کـړي.

## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ۴۰ شکایتونو ته رسېدنه کړې ده



د مالیـې وزارت د مقـام د شـکایتونو اورېدلـو خپلـواک آمریـت، چـې د وزارت اړونـد د ټولـو چـارو پـه تـړاو د مراجعینـو او هیوادوالـو سـتونزو او شـکایتونو تـه د رسـېدنې مسـؤلیت پـه غـاړه لـري، پـه خپلـواک ډول د خپلـو فعالیتونـو لـه پیـل راهیسـې پـه بېـلا بېلو(تـدارکاتي، مـالي او منفکـي...) برخـو کـې (۴۰) شـکایتونو تـه رسـېدنه کـړې ده.
د شـکایتونو اورېدلـو خپلـواک آمریـت، هـر شـکایت پـه مسـتقیم ډول لـه ځنـډ پرتـه د مالیـې وزارت لـه درانـه مقـام سره شریکـوي او د مقـام لـه هدایـت سره سـم ورتـه پـه ټـاکلي وخـت رسـېدنه کـوي او د شـکایت کوونکـي بشـپړ رضایـت حاصلـوي.
اوس هـر مراجعـه کوونکـی، چـې د مالیـې وزارت اړونـدو برخـو کـې لـه ستونزو سره مخ کېـږي، کـولای سي پـه ډاډه زړه دغـه آمریـت تـه خپـل شـکایت د ځانګـړي فـورم پـه ډکولـو سره وړانـدې کـړي او یـا هـم د لانـدې ټلیفـوني شـمېرو او یـا ایمیـل ادرس لـه لارې خپـل شـکایت ثبـت کـړي.

ټلیفوني شمېرې: (۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰)
واټساپ: (۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶)
ایمیل آدرس: officialcomplaints@mof.gov.af

## د افغانستان د مسلکي محاسبینو(CPA) ریاست د بورډ لومړنۍ ناسته ترسره سوه


د افغانسـتان د مسـلکي محاسـبینو(CPA) ریاسـت، د مسـلکي محاسـبینو د روزنې او سـاتنې، افـرادو او شرکتونـو تـه د معیـاري، منـل سـوو محاسـبوي جوازونـو د ورکولـو او پـه ټولـه کـې پـه ملـي کچـه، مسـلکي محاسـبې تـه د ودې ورکولـو پـه موخـه چـارې تـرسره کـوي، چـې ورسره پـه دولتـي، نیمـه دولتـي او خصـوصي ادارو کـې مسـلکي محاسـبوي چـارې او مـالي روڼتیـا رامنځتـه کېـږي.
د اسـلامي امـارت د بیـا حاکمیـت را وروسـته د دغـه ریاسـت د بـورډ لومړنـۍ ناسـته د مالیـې وزارت د خزاینـو د لـوی رئیـس، نـصرت اللـه محمـود پـه




مـشرۍ او د لـوړو زده کـړو او اقتصـاد وزارتونـو، د افغانسـتان بانـک او سـوداګرۍ خونـې د مـالي مسـؤلینو او د یـاد ریاسـت د مسـلکي غـړو پـه ګـډون، تـرسره سـوه.
پـه دغـه ناسـته کـې د مسـلکي محاسـبینو(CPA) ریاسـت د چارو د بیا پیـل پـر څرنګوالي، د مسـلکي تشـکیل پر غښـتلتیا، د کمپنیو او شرکتونـو د ارزونې پـر څرنګـوالي او د عمـلي اجراآتـو پـه موخه د کړنـلارې د لارښـود پـر ترتیبولـو هـر اړخیـز بحثونـه وسـول؛ د بـورډ د غـړو لـه لـوري د چـارو د ښـه پرمختـګ پـه موخـه، پـر یـو شـمېر موضوعاتـو هوکـړې وسـوې او ځینـي مسـایل د دقیقـي ارزونې پـه موخـه د (CPA) ریاسـت تـه وسـپارل سـول؛ ترڅـو وروسـتۍ راپـور ئـې د بـورډ راتلونکـي غونډې ته وړانـدي کـړي.

## د مرکز او ولایتونو د دولتي پوهنتونونو مسؤلینو ته په تدارکاتي او مالي برخو کي روزنیز سیمینار وړاندي سو

د مالیې وزارت د خزاینو لـوي ریاست اړوند د محاسباتو رئیس محب الله صاحبزاده او د یـاد ریاست تخنیکي ټیـم، د لـوړو زده کـړو وزارت لـه لـوري د ټولـو امارتي پوهنتونـو مسؤلینو تـه د مـالي چارو پـه تـړاو جوړ سـوي روزنیز سیمینار کـي ګـډون وکـړ او د مهمـو مـالي مسـائلو پـه اړه ئـې معلومـات ورکـړل.
پـه دغـه سـیمنار کـي د پوهنتونونـو، رئیسـانو، مرسـتیالانو او د مـالي برخـي مسـؤلینو تـه د مـلي بودیجـې د اصولنامـې، پـه (۱۴۰۲) مـالي کال کـي د مـلي بودیجـې د اجـراء، د مـلي بودیجـې د لګښـتونو او سـپما او اړونـدو نـورو مـالي او تـدارکاتي برخـو کـي اړیـن معلومـات وړانـدي سـول.
د دغـه سـیمنار پـه پـای کـې د یـو شـمېر ګډونوالـو پوښـتنو تـه هـر اړخیـز ځوابونه هم ورکړل سـول.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# The Role of Agricultural Economics to Improve the Economic Status of Farmers



Dr. Mohammad Akbar Nadeer Poor
Head of Strategic Communications with Donors
Ministry of Finance

Production of agricultural is the biggest creator of economic value for the society of Afghanistan. The agriculture index actually changes and increases the income of farmers' families. Agriculture is the main source of production and a good source of income for farmers and in this way they can increase their income. With the increase in income and expanding of urbanization of farmers, the demand for agricultural products is increasing day by day. Success is possible when agriculture continuously maintains a clearly defined and attractive product as a productive product with economic value and increases the production level. Agricultural products can cover the income of farmers through increased production, rapid growth of products, and the income of farmers' economy and have a direct effect on the increase of agricultural products.

Employment in the agricultural sector and related activities is the main provider of employment in this sector, which constitutes 70 – 75% of the total workforce across the country. But the share of agricultural production is very low and is only between 25 and 32 percent that is almost half of the share of the labor force employed in this sector, which means a low level of labor productivity. Agricultural production can be increased by promoting possible horizontal and vertical integration of agriculture and related activities.

Also, special attention should be paid to professional agriculture farmers to increase their efficiency, which in turn will lead to improvement of overall labor productivity and increase the share of agricultural production in the government's net domestic product. This trade-off often occurs in family-headed farmers, where resource constraints are greater, as a result of limited choices, farmers tend to maintain traditional ways of economic activity.

To evaluate the number of families that work in agricultural and economic activities as their main source of income, it is known that more than 75% of farmers' families in every part of the country are engaged in farming. About 55% of rural households are engaged in agriculture, which is an exception due to there is no significant industrial or manufacturing sector. Also, the budget for agriculture has not increased over the years; there is no support for the production of farmers to hike their income level.

Agriculture is the driving force of the economy and the source of Afghanistan's needs. Climatic diversity in Afghanistan on the one hand and abundant natural and human resources on the other hand are among the main opportunities for the development of agriculture in Afghanistan. Out of the total area of Afghanistan (652 thousand square kilometers), only 12% of land (eight million hectares) is arable and 4% of this land is under irrigation. More than 55% of the population of this country is directly and indirectly dependent on agricultural fields for their livelihood. The agriculture system in Afghanistan is subsistence and is still deeply dependent on nature, wheat and other grains are the main products of this country.

To develop agriculture in Afghanistan, economic and social development priorities of agriculture sector should be identified. Formulating policies and investments can lead to the potential growth of the agriculture sector in reducing poverty and sustainable economic growth through creating work opportunities.



## ۸۳۲ کیلو گرام ادویه طبی قاچاقی در گمرک محصولی ننگرهار کشف و ضبط گردید

کارمندان بخش تشریح گمرک ننگرهار در دو محموله تجاری وارداتی مملو از مواد پرچون که مربوط شرکت خلاند بهار می باشد (۸۳۲) کیلو گرام انواع مختلف ادویه جات طبی که به شکل مخفیانه در این محموله ها جاسازی شده بود و قصد قاچاق آن را به کشور داشتند کشف و ضبط کردند. ادویه جات طبی مذکور که به شکل ماهرانه در (۸) بیلر جاسازی شده بود، هنگام تشریح اموال کشف و بدست آمده.



# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند د بگرامیو نساجي ته مخامخ د یوه باب تېلو پمپ د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت د (١٦) مي ناحیې اړوند بگرامیو نساجي ته مخامخ یو باب د تېلو پمپ، چې (۵) د تېلو پایې، (۳) د ځمکې لاندې زېرمې، جومات، یوه خونه او یو تشناب لرونکې دئ او (۱۳۲۲.۳) متره مربع مساحت لري، چې میاشتنۍ کرایه ئې (۹۳۲۴۴) افغانۍ ده د داوطلبۍ لپاره وړاندې کړي. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي دغه دولتي ملکیت په کرایه ونیسي، کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱/۱۲/۱۴۰۲نېټې څخه تر ۲۱/۱۲/۱۴۰۲) نېټې پورې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي.

### د داوطلبۍ خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ملي بودیجې لوی ریاست د اړتیا وړ ۱۹ قلمه د ټکنالوژۍ وسایلو د چمتو کولو او تدارک) په پروژو کې، چې تشخیصیه نمبر ئې (۰۷۹-NCB/G/۱٤٠۲/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بنه تر سره کېږي برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندې پتو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندې د جلسې ټاکلې نېټه: (کب ۱۲مه۱۴۰۲) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشایۍ ټاکلې نېټه: د (کب ۲۱مه ۱۴۰۲) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: پنځوس زره ( ۵۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

### د کابل ولایت مختلفو ناحیو کي د (۴) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت اړوند (۵،۱ او ١٦) ناحیو کي (۴) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول داوطلبۍ ته وسپاري
۱. د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند بگرامیو نساجي له دیوال سره وصل یو باب نانوائي، چي (٦٢،٧٢) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۱۴۷۵٦) افغانۍ ده.
۲. د کابل ولایت (۵) مي ناحیې اړوند (چاه عمیق) خوشحال خان مېنې سره (۳۳۳) متره مربع ځمکه، چي میاشتنۍ کرایه ئې (۹۳۳۳) افغانۍ ده.
۳. د کابل ولایت (١٦) مي ناحیې اړوند بگرامیو نساجي په داخل کي د شنې ساحې په لرلو سره یو باب هنگر، چي (۱۷۳۱،۸۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۴۲۵۵۰) افغانۍ ده.
٤. د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر ودانۍ لومړي پوړ کي یو باب (۱۲) مه شمېره غرفه، چي (۸.۰۳)) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۱۵۰۰۰) افغانۍ ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.

### په مزارشریف کي د (۴) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د بلخ مستوفیت غواړي، چي په مزارشریف ښار کي (۴) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول داوطلبۍ ته وسپاري.
۱. د مزار شریف ښار د کارته آریانا سره (۱۰۰۰) متره مربع سپینه ځمکه، چي لومړنی قیمت ئې (۱۱۰۰۰) افغانۍ دئ.
۲. د مزارشریف ښار په کارته آریانا کي یو ور بسته حویلۍ، چي (۳) پوړه ودانۍ هم لري او (۹٦۰) متره مربع مساحت لري. لومړنی قیمت ئې (۴۵۰۰) افغانۍ دئ.
۳. د مزارشریف ښار اړوند په منډیي انصاف مارکېټ کي (٦) بابه اطاقونه، (٦) بابه دوکانونه او (۲) بابه تهکاویاني، چي کرایه ئې د تېرو میاشتو د کرایې پر بنسټ ټاکل سوې ده.
٤. د مزار شریف ښار په کارته آریانا کي یو ور بند حویلي، چي (۹۰۰) متره مربع مساحت او (۳) پوړه ودانۍ او جلا د مېلمستون هم لري لومړنی قیمت ئې (۷۰۰۰) افغانۍ دئ.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي، خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۱۵) ورځو په موده کي د بلخ ولایت مستوفیت ته وسپاري، شرطپاڼه دي ترلاسه او نغدي تضمین دي ورکړي.

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

SHTAMANI
شتمنۍ اوونيزه

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



# First Meeting of Directorate of CPA's Board of Afghanistan Held




The Directorate of CPA (Corporation of Professional Accountants) works to train and maintain professional accountants, to issue standard & acceptable accounting licenses to individuals and corporations, and to promote professional accounting at nationwide, which creates professional accounting and financial transparency in state, semi-state and private bodies. After the re-establishment of IEA, the first meeting of the board of this Directorate that has been held, was chaired by Nusratullah Mahmood, the General Director of Treasury of MoF. The meeting was attended by the financial officials of ministries of Higher Education and Economy, DAB (Central Bank), Chamber of Commerce and professional members of the Directorate of CPA itself. In this meeting, the Directorate of CPA has held comprehensive discussions on how to resume business, how to strengthen professional formation, how to evaluate companies and corporations, and how to prepare a procedural guide for practical implementation. Members of the board agreed on numerous issues for the improvement of the affairs and some topics were handed over to the CPA for detailed assessment in order to submit the final report to the next board session.


# Mobile Surveillance Staff of Nimroz Customs Seizes Various Contrabands During Last Week

Nimroz Customs intelligent mobile surveillance staff seized a number of contrabands in different areas of this province, which the smugglers wanted to smuggle into the country.

The seized contrabands include 4950kg of Pakistani malts, 1465kg of fruit leather or fruit-roll and 3360kg of chocolate. The mentioned contrabands have been handed over to Nimroz Customs for further processing.



# DM of Customs, Revenues Meets With Superintendent of Mess Aynak Mining & Processing Company



Mullah Ab. Qahir Haji Edris, Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF has met Li Ben Tao, the Director of "Mess Aynak Mining & Process Company" and the delegation in his office. In this meeting, both sides has had a comprehensive discussion and talk regarding the way of digging Mess Aynak mine, the payment of taxes of the said company in Afghanistan, the institutions being built by this company in Afghanistan and some other issues related to the customs. Haji Edris thanked them for investing in Afghanistan. "Currently there is best opportunity for investment in Afghanistan and there is no stumbling block in this circumstance", he added. The DM of Customs and Revenues has assured the superintendent of Mess Aynak Mining and Processing Company that he will fully cooperate with them in solving the existing problems.




# په افغانستان کي د پنبې حاصلات د پروسږ کال په پرتله (٤١٪) ډېر سوي دي



د شینوا په نوم د چین خبري اژانس په یوه راپور کي د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په حواله د افغانستان د مالوچو حاصلاتو د ډېرښت خبره راغلې ده، چي وايي افغانستان پروسږ کال له (۱۲۲,۰۰۰) ټنو څخه زیاته پنبه حاصله کړې ده. پروسږ کال په افغانستان کي د پنبې کښت (۹۳,۶۳۰) هیکتاره وو، په داسي حال کي چي وايي وړم کال دغه شمېر (٥٤,٨٦٩) هیکتارو ته رسېدی، چي د (٤١٪) ډېرښت معنا ور کوي. په راپور کي راغلي دي، چي وايي اسلامي امارت د کوکنارو پر کښت، پروسیس او د نشه يي توکو پر قاچاق بندیز لګولی دئ او بزګران هڅوي، چي د نامشروع کښتونو پر ځای حلال کښت وکړي. شینوا په وروستۍ برخه کي د پنبې د زیات کښت کوونکو ولایتونو خوا ته هم اشاره کوي، چي په دې راپور کي «هلمند، بلخ، تخار، ننګرهار او کندهار» د پنبې یا مالوچو د زیاتو تولیدوونکو په کتار کي راوړل سوي دي.

## په ۱۴۰۲ مالي کال کي د ماليې وزارت اړوند گمرکونو د بیارغوني او عصري کولو پروژې!

| شمېره | د پروژې/ فعالیت نوم | ولایت | ارزښت | د کار جریان |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د خوست په محصولي گمرک کي د سوداکریزو موټرونو لپاره د معیاري تمځای جوړول. | خوست | 105،963،060 | جریان لري |
| 2 | د ننگرهار په حصارشاهي گمرک کي د سوداگریزو توکو د ساتني لپاره د احاطې او ټاورونو جوړول. | ننگرهار | 51،584،977 | جریان لري |
| 3 | د حیرتان په گمرک کي د سوداکریزو موټرونو لپاره د معیاري تمځای جوړول. | بلخ | 47،599،450 | جریان لري |
| 4 | د پکتیا ولایت ډنډپټان په گمرک کي د سوداگریزو توکو د ساتني لپاره د عصري هنگرونو،کانال او د موټرونو لپاره د تمځای جوړول. | پکتیا | 43،740،575 | جریان لري |
| 5 | د سوداگریزو توکو د ساتني، تخلیې او تشریح لپاره د ابو نصر فراهي په گمرک کي په عصري ډول د هنگرونو جوړول. | فراه | 34،019،793 | جریان لري |
| 6 | په نیمروز کي د سوداکریزو موټرونو لپاره د معیاري تمځای جوړول. | نیمروز | 31،951،950 | جریان لري |
| 7 | د کندهار د محصولي گمرک انگړ په معیاري ډول جوړول. | کندهار | 25،758،844 | جریان لري |
| 8 | په کابل کي د افغانستان د ټولو گمرکونو د څارني لپاره د معیاري کنټرول روم جوړول. | کابل | 17،559،635 | جریان لري |
| 9 | مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو لپاره د خوست په محصولي گمرک کي سوداگزیو توکو د پراوونو ترسره کولو لپاره د ودانۍ جوړول. | خوست | 13،643،380 | جریان لري |
| 10 | مراجعینو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو لپاره د ابو نصر فراهي په گمرک کي د ودانۍ جوړول. | فراه | 12،846،580 | جریان لري |
| 11 | د تورخم په گمرک کي د سوداگریزو توکو د ساتني، تخلیې او تشریح لپاره په عصري ډول د هنگرونوبیارغونه. | ننگرهار | 9،001،009 | جریان لري |
| 12 | سوداگریزو موټرونو ته د اسانتیا په موخه د هرات په محصولي گمرک کي د دخولي دروازې سړک جوړول. | هرات | 5،734،330 | بشپړ |
| 13 | د حیرتان گمرک د عصري کولو په موخه د هنگرونو بیارغونه او د معیاري آرشیف جوړول. | بلخ | 5،518،827 | بشپړ |
| 14 | د ننگرهار په حصارشاهي گمرک کي د مراجعینو لپاره د اړینو اسانیتاوو د رامنځته کولو پروژه. | ننگرهار | 2،659،215 | جریان لري |
| 15 | په عصري ډول د هرات محصولي او اسلام کلا سرحدي گمرکونو لپاره د اداري ودانیو او هنگرونو بیارغونه. | هرات | 2،441،965 | جریان لري |
| 16 | په عصري بڼه د تخار ولایت د آی خانم په گمرک کي د دوه بابه اداري ودانیو بیارغونه. | تخار | 2،189،258 | بشپړ |
| 17 | د سواگریزو توکو د خرابېدو د مخنیوي او شفافیت رامنځته کولو په موخه د اسلام کلا سرحدي گمرک د سکنر لپاره د هنگر جوړول. | هرات | 1،505،400 | جریان لري |
| 18 | د سواگریزو توکو د خرابېدو د مخنیوي او شفافیت رامنځته کولو په موخه د تورخم گمرک د سکنر لپاره د هنگر جوړول. | ننگرهار | 1،505،400 | |
| 19 | د کابل په گمرک کي د موټرونو لپاره تمځای، د اسیکوډا نړیوال سیستم ودانۍ او د اسنادو د خوندي ساتني لپاره د آرشیف جوړول. | کابل | 8،56700 | بشپړ |
| 20 | د ننگرها ولایت محصولي گمرک د C بلاک بیارغونه. | ننگرهار | 8،00530 | جریان لري |
| 21 | د کابل نړیوال هوايي گمرک د توکو د خرابېدو، تشریح، تخلیې او بارگیري لپاره د هنگرونو معیاري بیارغول. | کابل | 7،000،00 | بشپړ |
| 22 | د پکتیکا ولایت د اورگون گمرک لپاره معیاري خای جوړول. | پکتیکا | 490،949 | بشپړ |
| 23 | د گمرکونو او عوایدو په معینیت کي د مراجعینو لپاره د معیاري خای برابرول. | کابل | 4،87800 | جریان لري |
| 24 | د پکتیا ډنډ پټان گمرک د جنراتور لپاره معیاري خای جوړول. | پکتیا | 3،18000 | بشپړ |
| 25 | د پکتیا ولایت ډنډپټان په گمرک کي د اسنادو د ساتني لپاره د معیاري آرشیف جوړول. | پکتیا | | بشپړ |
| | مجموعي ارزښت | | 418،877،627 | |

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه بریښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.